مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۰۲۵/۰۴/۱۱

د پښتنو د مقاومت سمبول د سیاسي بندي علي وزیر پېژندنه

سریزه:

د نړۍ د مقاومتونو او پاڅونونو په تاریخ کې د پامور غږونه او اعتراضات د لیکوالانو، شاعرانو، د بشري حقونو د مدافعینو دي، کوم چې واکمن مستقیماً ننګوي، ګوته ورته نیسي او نبغ په نبغ ریښتیا ورته بیانوي، تر څو د واکمنو دولتونه وننګول شي. مستبد او ظالم حکومتونه د همدې ریښتیا ویلو له امله دوی بندیانوي. ظالمو حکومتونو هېڅکله اخلاقیات او بشري حقونه نه دي مراعت کړي. حکومتونو هېڅکله خلک د دې لپاره بندیان او اعدام نه کړل، چې دوی یو غیر قانوني عمل ترسره کړي وي. ظالم حکومتونه منتقیدین ځکه بندیانوي او اعداموي، ترڅو د هر بل کار ترسره کولو مخه یې ونیول شي. سیاسي بندی هغه څوک دی، چې د خپلو سیاسي عقایدو او افکارو درلودلو له امله بندي وي. په ټوله نړۍ کې ډیکتاتور رژیمونه خلک د شخصیت درلودلو له امله نه نیسي او نه د هغه څه شي له امله نیول کیږي، چې دوی ترسره کړي دي. له دې سره د سیاسي بندیانو کټګوري یو جنایي جرمي عمل ته ورګرځول کیږي. حکومتونه د غیر قانوني لارو چارو له لارې د خپلو مخالفینو د انتقادي غږونه خاموشه کولو لپاره په غیري قانوني او ظالمانه کړنو لاس پوري کوي. یو ظالم، ډارن او کمزوری دولت د خپلو مخالفینو غږ چې په هره وسیله وي غلي کوي. کله چې حکومت د خلکو د نیوکو په ځواب کې تشدد او وسله کاروي، په دغسي یو حالت کې یو شي رامنځته کیږي، چې یو ظالم استبدادي ترهګر رژیم په خپلو وګړو کې ویره، ترور او اختناق خپروي یا رامنځته کوي. لکه د پاکستان مستبد، ظالم او جابر ریاست. نن پاکستانی منفور رژیم او پوځ یې په دې ښه پوهیږي، چې د پښتنو او نورو لږکیو د مقاومت او د خپلواکۍ غږونه ورځ تر بلې په لوړ اواز په ټوله نړۍ کې اوریدل کیږي. پاکستان کې د پښتنو لپاره د بیان ازادي نېشته. پښتانه به غلي کیږي، که نه بندیان کیږي.

د پښتنو په محاصر تاریخ او د پښتنو د جګړې ضد غورځنګ کې د نر وزیر، زخمی وزیر، علي وزیر ځانګړي موقعیت، د هغه کارېسماتیک شخصیت رول، مقاومت، میرانه، زړورتیا او د مبارزې انګیزه ټولو ته د پامور ګرځیدلي. د سر دارعلي وزیر نوم د پېنځه اوویا کلن پنجابي استعمار په وړاندې د پښتنو د خپلواکۍ مقاومت او د پښتنو مذاحمتي پاڅون یو سمبول ګرځیدلی دی. د علي وزیر سپېڅلي مبارزه، مقاومت، د هغه په ژوند کې مصیبتونه، کړاوونه، غمونه او ناوړه خونړۍ ترهګرزو پېښو تاریخ په جنوبي وزیرستان کې د پاکستان ریاستي ترهګرزو پېښو سره ډیر نږدې تړاو لري. د پاکستان ظالمانه قضایي تور سیستم د پوځیانو په لاس کې دی. دوی په کې خپله واکمنۍ، غیر قانوني کړنې او ناروا امرونه چلوي.

علي وزیر څوک دی

علي وزیر د جنوبي وزیرستان یو زړور کارېسماتیک ځوان سیاستوال او پېژندل شوي پښتون سیاسي شخصیت دی. د ډیورند کرښې دواړه غاړو ته پراته پښتانه نوموړي ته د درناوي لپاره د زخمي وزیر په نامه یې یادوي. دا هغو بیسارو قربانیو ته د درناوی یوه نښه ده، چې د سردار محمد علي وزیر هر دم شهیدي کورنۍ د پښتون ملت لپاره ورکړي دي. علي وزیر د پښتنو احمد زي قبیلي پورې تړاو لري. پلار یې ملک میزا عالم خان وزیر د احمد زیو وزیرو یو قبایلي مشر و. علي وزیر خپلې لومړنۍ زده کړې د جنوبي وزیرستان د وانه په سیمه کې ترلاسه کړې دي. نوموړي د ډیرې اسماعیل خان په ګومل پوهنتون کې حقوقي لوړو زده کړو پرمهال د کین اړخي سیاسي تمایلوتو څخه هم لږ څه اغیزمن شوي و. نوموړي له همدې مهال ورو ورو د پښتنو د ملي مبارزینو په محاصر تاریخ کې یو نه ماتیدونکی او نه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تسلیمیدونکی وتلي پښتون سیاسي فعال مهم شخصیت ګرځیدلی دی. علي وزیر له وانه څخه تر پارلمانه او زندانه یو ډیر اوږد لوی غمجن داستان لري.
په 2013 کال نوموړي پارلماني ټاکنو کي د همدي ټاکنیزي حوزي څخه په ټاکنو کي برخه واخیسته، خو د شاوخوا 300 رائیو په کمښت سره ماتي وخوړه او ډیري خلک په دي باور دي، چي د امنیتي استخباراتي اداري مامورین د هغه په ماتي کي ښکیل ول.
له کله نه چي علي وزیر د پاکستاني امنیتي ادارو او ځواکونو لخوا په ناروا، دورغجنو قضیو کي مسوول ګڼل کیږي. علي وزیر د خپلي بیساری زړورتیا، عزم، مقاومت، بي وېري مبارزي، ننګونو او د پنجاب تور جیلونو ته اچولو له امله په لر او بر وطن کي پر ملي او نړیوال کچ د یو اتل پښتون شهرت تر لاسه کړي دی.
په 2003 کال کي د علي وزیر مشر ورور فاروق وزیر یو قومي ملتپال مشر و. نوموړي په سپمه کي د وسله والو او اورپکو ډلو پر شتون نیوکي کولي، خو یو څو موده ورسته د همدي نامالومو وسله والو لخوا ووژل شو.
د 2020 کال د ډسیمبرپه 16 مه د کرکي خپرولو او د خیانت په تور د جنرال باجوه په غوښتنه زندان ته لاړ. لامل یې په 2020 کال د ډیسمبر په شپږمه کراچی کي د پښتنو د جګړي ضد غورځنګ د پي ټي اېم په یوه غونډه کي د هغه وینا وه. د علي وزیر د یوې بلي وینا متن: نن د انګریز بچیان، د انګریز غلام، د انګریز روزلي خلک د دي پنجابي پوځ په نمایندګي په چیک پوستونو باندي ولاړ دي او هغه د دغو غیرتمندو خلکو او د ولس تلاشي کوي. موږ ته وایي، چي کشمیر ازادوم، په هندوستان باندي جنډه لګوم، موږ ته وایي فلسطین له اسرائیلو ازادوم. موږ ته وایي، چي افغانستان زموږ پېښمه صوبه ده، د ستا پالیسي کوم ځای ته راغله؟ ته قومونه سره په خپلوکي سره جنګوي، ضعلو خلک سره خپلو کي جنګوي، ستا پالیسي دا شوه، چي د ښځو ګانې یا سره زر غلا کوي، ته دا یاد ساته چي د هندوستان سره کاروبار وکړو، تا د ایران سره کاروبار وکړو، ته د چین سره کاروبار وکړو او د افغانستان په خاوره باندي چي د ډیورنډ لاین یو عارضي لاین دی، په هغې باندي بادار اچولي دی، تا په هغې باندي بادار اچولي دی او قومونه دي تقسیم کړي دي. ان شاالله تعالی ملګرو دا یاد ساتئ چي دا قومونه دوی نشي تقسیمولي، په بنګال کي یې ستا اتیا لس زره پوځیانو ونیول، بیا دي بله ورځ د جنګ معاهده ورسره وکړه، په هغه باندي را خلاص کړي، په یاد وساته چي وزیرستان ته که انګریز راننوتلي او که بل څوک، پتلون یې پاتي شوي او دي تښتیدلی دی، نن وزیرستان بیا د جنګ سره مخ دی، نن وزیرستان ته بیا جنګ راځي، دا جنګ یا د چین په خلاف کوي یا د امریکي په خپله مرضي باندي کوي، ته وزیرستان ته جنګ دغسی نشي راوستلي، وزیرستان ته جنګ ولي راولي.؟ دلته کرایي بد معاشان راولي، بیا چي چیرته دهماکه وشي، نو بیا هغوي وایي، چي دا موږ وکړه، هغه چي په اسلام اباد کي د پاکستان پوځ دهماکه وکړي، بیا ووایي چي موږ وکړه، وا د پاکستان پوځه، موږ تا دي کار ته نه پرېږدو په هیڅ صورت دي نه پرېږدو. زموږ نور د هیڅ چا سره بدي نېشته، زموږ بدي د پاکستان د پوځ سره ده. موږ دا وایو په جرات سره وایو چي زموږ وس ورسیږي موږ ته موقع په لاس راشي، په خداي قسم که د سپاهي نه را نیولي، بیا تر جرنیل پوري درباندي رحم وکړم، پنجابی استعماري پوځ مرده باد. ملګرو زما ستوني خراب شوي، زه تېزې چېغې نشم وهلي، خو تاسي به داسي ځواب راکوي، چي دی په بستره کي توپ وکړي، ,, لر او بر یو افغان,, دا نعره څو واري د لکونو لاریونوالو لخوا بدرګه او تکرار شوه، چي له امونه تر اباسین او مارګلي پوري ټولو پښتنو افغانانو واریده، ان جناح په خپل قبر کي په څنګ واوښت.
د 2018 کال د جولای په پارلماني ټاکنو کي هغه د سویلي وزیرستان څخه د پاکستان ولسي جرګي د غړي په توګه وټاکل شو. په 2003 کال کي د علي وزیر مشر ورور فاروق وزیر په یوه ترهګریزي برید کي ووژل شو. دی ته ورته په نورو ترهګرېزو بریدونو او خونړیو پېښو کي تر 70000 ډېر کسان ووژل شول، چي اکثریت پښتانه ول.
په 2003 کال کي وزیرستان د منځنۍ اسیا او بېلا بېلو عربي هیوادونو د بهرنیو وسله والو په مرکز بدل شوي وه. د پاکستان حکومت تر اوسه د ترهګرېزو ادو د رامنځته کولو څخه انکار ته دوام ورکوي. که څه هم هغمهال ځایي سیاستوالو او قومي مشرانو خپلي سیمي د ترهګرېزو ادو بدلولو پر وړاندي خپل غږ پورته کړي و.
کله چي د علي وزیر ورور ووژل شو، هغه د حقوقو په پوهنځي کي محصل و. په 2005 کال د سرحدي جرمونو د مقرراتو (FCR) تور قانون لاندي بندي شوي وه. دا د انګرېزي استعمار د دوري تور قانون و، چي موخه یې ځایي وګړو په خپلسري توګه د ډلې ییزې سزاګانو له لارې سزا ورکول کیدی، پښتانه بي پوښتني زندانونه ته اچول کیدل او نقدي جریمه کیدل. کله چي نوموړي په جېل کي و، د علي وزیر پلار، ورونه، د ټره زامن او یو ټره یې په یوه پېښه کي ووژل شول. علي وزیر ته د جنازو په مراسمو کي د ګډون اجازه هم ورنه کړل شوه. دي ډول بي رحمو وژنو علي وزیر او د هغه درنه کورنۍ د پاکستاني ریاست د پوځي پالیسیو په وړاندي له مخالفت راونه ګرځوله. علي وزیر د خپلي کورنۍ 17 غړي د ترهګرو یا په هغو نامالومو بریدنو کي له لاسه ورکړل، چي تر اوسه هېڅا مسوولیت نه دی په غاړه اخیستي.
د علی وزیر مورکي محترمه خوازمینه د 2005 کال د جولای د ورځي د تلین په مناسبت وویل: ,,زموږ ټول کور انګړ د خپلو شهیدانو په وینو سور وه. زموږ کور په یوه بیساری ویر کي ډوب، خاموشه او خالی وه. کله چي د شهیدانو جسدونه د ښخولو لپاره هدېرې ته یوړل شول.,,
د علي وزیر تر ټولو وروستۍ شهید د هغه تره زوی او د پي ټي اېم نړدی ملګری او سیاسي متحد د شهید افغان عارف وزیر مړینه وه. د شهید عارف وزیر پلار او ورور هم د نامالومو وسله والو لخوا وژلي شوي دي. علي وزیر په خپله د څو وژونکو ترهګرېزو بریدونو څخه بچ پاتي شوی دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د 2020 کال په مې میاشت کې د علي وزېر تره زوی عارف وزېر وژل کېږي. د 2003 او 2020 کلونو ترمنځ د علي وزېر د شهید پروري کورنۍ اتلس نارینه غړي د پاکستاني ریاست او پوځیانو لخوا د تمویلو شویو ترهګرو او اورپکو لخوا ووژل شول.
په 2018 کال د جون په دویمه نېټه د راتلونکي ملي ټاکنو لپاره د کمپاین پر مهال علي وزېر له یوې ترهګرېزې حملې څخه روغ رمټ ووتلو، چې په کې د علی وزېر 25 ملاتړی ملګري ټپیان شول.
په 2019 کال کې د مې میاشتې په 26 مه نېټه د شمالي وزېرستان په خړکمر سېمه کې د پاکستاني پوځیانو لخوا یو مرګونې برید ترسره شو. علي وزېر په وزېرستان کې د پي ټي اېم له سلګونو ملګرو او ملاتړ سره یو ځای هڅه کوله، څو د پاکستاني پوځ د سرغړونو پر وړاندې سېمه کې د یو پرلت تنظیمولو ته وررسوي، چې د خړکمر په امنیتي پوسته کې ودرول شول او کله چې دوی هڅه وکړه، چې له پولې ورتېر شي، پاکستاني پوځیانو پر لاریونوالو مخامخ ډزې پېل کړې. علي وزېر بیا بچ شو، خو 17 د پي ټي اېم سیاسي فعالان ووژل شول او ځینې ټپیان شول. علي وزېر په هغه ځای کې ونیول شو.
د خړ کمر پېښه د خړکمر قتل عام په نامه پېژندل کېږي. دا پېښه د پي ټي اېم د جګړې ضد غورځنګ په تاریخ کې یو مهم بدلون ګڼل کېږي. دې پېښې د پاکستاني دولت بنسټیزه پېښتون ضد پالیسي روښانه او ثابته کړه، چې پاکستاني یا پنجابي ریاست ته د پښتنو ژوند هېڅ اهمیت او ارزښت نه لري او اړتیا ورته هم نه لري. پوځیانو خپله علي وزېر پر پوځي پوسته د برید په پلانولو په تور تورن کړ.
پي ټي اېم د علي وزېر د نیول کیدو ورسته په پاکستان او په ټوله نړۍ کې په ځانګړې توګه د اروپا په سترو ښارونو کې پراخ لاریونونه ترسره شول، ترڅو پر پنجابي ظالم حکومت فشار راوستل شي، چې خپل دورغجن تورونه بېرته واخلي.
په 2019 کال کې د سپټمبر په 19 نېټه علي وزېر په ضمانت خوشی شو او تورونه بالاخره په 2020 کال د اکتوبر 14 مه لرې شول.
په 2020 کال کې د ډیسمبر په 16 مه علي وزېر بیا د کراچۍ پولیسو په غوښتنه پېښور کې ونیول شو او کراچۍ ته په الوتکه کې یوړل شو. د علي وزېر په قضیه کې د پاکستان ستري محکمې د ضمانت منظورلو لپاره شاخوا یو کال وخت ونیولو. د ضمانت په پروسه کې یوه له بنسټیزو ستونزو څخه د 2020 کال د ډیسمبر شپږمې د علی وزېر وینا ژبارل و. د علی وزېر وینا له پښتو ژبې څخه اردو ته ژبارلې شوې و، خو په لومړنۍ مالوماتي راپور (FIR) کې د پولیسو افسر لخوا اردو ژبې ته ژبارل شوې وه. د علي وزېر مدافع وکیل دغه ژباړه رد کړه، ځکه چې د پښتو سېمه ییزه لهجه یې غلطه ژبارلې وه. ,, ګویا داسې تاثر رامنځته شوې و، چې علي وزېر خلک بلوا یا پاڅون ته هڅول،،.
علي وزېر د نوامبر میاشتې پر 14 مه نېټه د بلوڅیستان ایالت چمن ښار کې په یوه پرلت کې له ګډون ورسته ونیول شو.
د جنوبي وزیرستان څخه د پارلمان غړی او د پښتون ژغورنې غورځنګ مخکښ مشر علي وزېر د کراچۍ مرکزي زندانه له دوو کلونو څخه زیاتې مودې ورسته د توقیفي حبس تیرولو ورسته خوشی شو. د پارلمان غړی علي وزېر د 2020 کال د ډیسمبر له 31 مې راهېسې د بغاوت په څو تورونو کې نیول شوې و. د کراچۍ په زندان کې د 26 میاشتې تیرولو ورسته خوشی شو. د علی وزېر مدافع وکیل قدیر خان وویل: هر کله چې د هغه موکل په قضیه کې برائت ومومي یا په ضمانت خوشي شي، هغه بیا په بله قضیه کې په سند یا په خیبر پښتونخوا کې ونیول شي. د علي وزېر خپلواکۍ ارادې ماتولو کوښښ او په زنداني ساتلو لپاره هره هڅه او هره حربه وکارول شوه. خو د علي وزېر فولادي اراده او مقاومت یې مات نه کړ. عدالت د ټل لپاره رد کیدای نشي. د نړۍ بشري حقونو سازمانونو د علي وزېر تحقیر امېزه او له سپکاوی ډک چلند په سختو ټکو کې غندلي دی.

علي وزېر باندې د پاکستان جزا قانون کوم تورونه او ایف اې اړونه درج شوي.

پر علي وزېر باندې په ثبت شوي ایف اې اړونه د پاکستان د جزا قانون د 120-B مادې له مخې ,, د جنایي جرمونو دسیسو سزا،، . د 121 مادې له مخې د ,, پاکستان په ضد د جګړې پیلول یا جګړې ته د خلکو هڅول،،. د 121-A مادې له مخې ,, د سزا وړ جرمونو د ترسره کولو توطیه کول،،. د 124-A مادې له مخې ,, فتنه جوړول ,, . د 153-A مادې له مخې ,, د بلوا یا پاڅون د رامنځته کولو په نیت خلک د پاکستان دښمنۍ ته راپاروول،، . د 505 مادې له مخې ,, د عامه فساد جوړولو سره د مرستې کولو بیانونه ورکول ,,. د 506 مادې له مخې ,, د جنایي جرمونو سزا،، د 188 مادې له مخې ,, د امن نظم عامه مامور د حکم نه سرغړونه کول،، او همدارنګه د 1997 کال د ترهګرۍ ضد قانون د اوومې مادې د یوې برخې لاندې تورن پېژندل شوي و.
په 2021 کال کې د جنوري میاشت کې د علي وزېر محاکمه د کراچۍ په مرکزي زندان کې پیل شوه. د علي وزېر ملګري په ضمانت خوشي شول، خو د هغه غوښتنه رد شوه.
د 2021 کال د مارچ په پینځمه د سند عالي محکمې خپله پرېکړه وساتله، ان د 2021 کال تر جون دویمې پورې اعلان نه کړه. په دغه پرېکړه کې راغلي و، چې تورن سړی د دولتي ادارو په ضد غیر اخلاقي ژبه کارولې، چې کولې شي د بې اتفاقۍ لامل وګرځي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د 2021 کال د جون په 27 مه نېټه د پاکستان ولسي جرګې ویاند علي وزېر د بودیجې تصویب غونډه کې د ګډون لپاره یو امر صادر کړ، چې له مخې علي وزېر په کې برخه واخیسته او بیا بیرته د کراچۍ زندان ته ولیږل شو. په داسي حال کې چې د علي وزېر د اوسیدو ځای او پته د خیبر پښتونخوا ــ جنوبي وزېرستان دی.
د 2021 کال د نوامبر په دریمه د ترهګرۍ ضد محکمې پر هغه او په ایف ای ار کې د نومول شویو نورو کسانو پر وړاندې تورونه ولګول شول.
د 2021 کال د جون په دویمه نېټه د سند عالي محکمې د علي وزېر د ضمانت غوښتنه رد کړه او محکمې ته یې لارښوونه وکړه، چې قضیه په شپږو میاشتو کې پای ته ورسوي، دغه سپارښتنه هم ډېره موده ترسره نه شوه. د 2021 کال د نوامبر په 20 مه نېټه بالاخره علي وزېر د پاکستان د سترې محکمې له خوا په ضمانت خوشي شو.
د 2024 کال د اګسټ په دریمه نېټه د اسلام اباد پولیسو علی وزېر یو ځلي بیا توقیف کړ. د دې نېټې راهېسې څو ځله په ضمانت خوشي شو، خو هر ځل چې هغه خوشي کیږي، یوه نوې قضیه پرې راپورته کیږي، څو په دامداره توګه بندی پاتې شي. په قامي اسمبلي کې د سویلي وزېرستان د خلکو مخکښې استازی علي وزېر د اسلام اباد پولیسو لخوا په داسي وخت کې نیول کیږي، چې د پښتون ژغورنې غورځنګ لخوا د اکتوبر پر یوولسمه نېټه د ,, قامي عدالت,, په نامه یوه لویه میلیوني جرګه رابلل شوې وه. د ډېرو کتونکو په اند، علي وزېر له دې کبله زندان ته واچول شو، چې په جرګه کې د ریاستي ظالم او جبر پر خلاف خپل غږ پورته نه کړي. دا لا تراوسه سمه مالومه نه ده، چې دغه ترافیکي پېښه څه وخت او د چا لخوا ترسره شوې ده. پولیسو تر اوسه د علي وزېر د نیول کیدو په تړاو څه نه دي ویلي.
د علي وزېر حقوقي مشاور او مدافع وکیل شېر افضل مروت، وکیل عنایت کاسي او وکیل ملک پروېز شاهین عدالت ته وړاندې شول او د علي وزېر په سکهر کې په ثبت شوي ایف ای ار کې ضمانت ترلاسه کړ. علي وزېر په سکهر کې د ترهګرۍ ضد محکمې څخه له ضمانت اخیستلو ورسته بیا په یوه نوې قضیه کې ونیول شو. علي وزېر د اتو نهو میاشتو راهېسې په بېلا بېلو ولسوالیو کې په زندانون کې د ازادۍ او قضایي عدالت په هیله شپې ورځې تېروي. د علي وزېر حقوقي مشاور او مدافع وکیل شېر افضل مروت، چې خپله د پاکستان د ملي شورا یا ولسي جرګې غړی هم دی، هغه نه یوازې د خپلې قضیې د وړاندې کولو لپاره محکمې ته حاضر نشو، بلکې د علي وزېر د خوشي کولو لپاره د خوشي کولو امر سره مستقیماً زندان ته ولاړ. مروت د زندان څخه بهر په یوه ویډیویي پیغام کې د علي وزېر د پرلپسې نیولو او توقیفولو په اړه خپله مایوسي څرګنده کړه. مروت ژمنه وکړه، چې د علي وزېر قضیه به د پاکستان سترې محکمې ته یوسي، تر څو د هغه وروستۍ خوشۍ کول یقیني کړي.
د پاکستان پوځي استبلیشمنټ مشران په بد نیتي او قصداً د پښتون مشر علي وزېر محکمې ته د حاضریدو مخه نیسي. علي وزیر یو ځلي بیا عدالت ته په لاره کې له خندونو سره مخامخ شو. ټاکل شوی وه، پرون د چهارشنبې په ورځ علي وزېر باید محکمې ته حاضر کړل شوی وای، خو په محکمه کې د اوریدنې لپاره حاضر نشو. امنیتي مسوولو چارواکو دا خبره په دې سره توجیه کړه، چې د زندان هغه موټر، په کوم کې چې علي وزېر لیږدول کیدو خراب شو. داسي پلمې د پښتنو د بشري حقونو یو وتلي مشهور سیاستوال او د پښتون ژغورنې غورځنګ یو مخکښ غړی علي وزېر په اړه ډېرې اوریدلی شوې دي. د میاشتو میاشتو راهېسې د پلمو دا سلسله د محکمې نه دایرېدو او د ځنډیدنو جوړولو په اړه اوریدل کیږي. تر اوسه د علي وزېر د بند موده څو ځلي غځولې شوې ده. سره له دې چې د علي وزېر د قانوني پروسې د ځندولو لپاره پرله پسې هڅې کیږي، عالي محکمې په لومړۍ قضیه کې علي وزیر ته برائت ورکړ، په داسي حال کې چې د دوهمې قضیې اوریدنه د جنوري تر 24 مه پورې همدې تورو پټو لاسونو وځندوله.
د پېښو او مورېک دا روانه غیرقانوني او له بې عدالتي ډکه لوبه د یوې فردي عادي پېښې څخه ډېر څه په کې لیدل کیږي. دا د پاکستان پر قضایي عدالتي سیستم باندې یو بل تور داغ دی. دا پاکستانی پوځي استبلیشمنټ او استخباراتي ادارو د سیسټماتیکو هڅو او خندِ جوړولو یوه نښه ده، چې د پښتنو د بشري حقونو یوه مخکښ فعال مشر د ازادۍ حقونه تر پښو لاندې کولو او د هغه غږ خاموشه کولو سره غواړي د ستر پښتون ملت د ملتپالنې مبارزې مخه ونیسي.
تر څو چې د پښتون ژغورنې غورځنګ ژوندی وي، ان شاالله دې ارمان ته به دوی ونه رسیږي.

د علي وزېر سره مرکه:

کله چې علي وزېر له زندان راخلاص شو، هغه په یوه مرکه کې وویل، تیر څو میاشتو زما ژوند بدل کړی دی. سره له دې چې زه څومره د دردونو، رنځونو، کړاونو، غمونو، ګوابنونو، بې باورېو او تورونو سره مخامخ شوی یم، هغه مینه، ملاتړ، درنښت او درناوی چې زه تر لاسه کوم خورا زیات دی. د یو پښتون سیاسي فعال په توګه دلته پاکستان کې د دویمې لویې توکمیزې ډلې پښتون لپاره د امنیت غوښتنه کوم، هغه څه چې ما تر ټولو ډېر زده کړي دي، هغه دا دي، چې سوله ییز اعتراضونه او لاریونونه ټولنه موبیلیز کوي او یو سم لوری ته بدلون ورکوي. ما زده کړي، حق په باطل بریالی کیږي، سوله ییزه مبارزه تاوتریخوالي او جګړې ته ماتې ورکوي او بالاخره ریښتیا په دروغو او دوکو باندې بریالی کیږي. ما د دې پېړۍ په پیل کې حقوقي لوړې زده کړې کولې، کله چې زما ټاټوبی وانه د جنوبي وزیرستان ایجنسۍ د نړیوال تروریزم په مرکز بدل شو. د طالبانو ډېرو ملاتړ زمونږ په سیمه کې پناه اخیستې وه. پرته له شکه ترهګرو ځینې سیمه ییز ملاتړی هم درلودل، خو په پای کې دا پاکستاني دولت و، چې د سیمې له کارولو څخه مخنیوی کړي وای.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چې زما پلار د احمدزي وزېر قبيلې مشر په توګه او نورو سيمه ييزو مشرانو د ترهګرو د شتون په اړه شکايت وکړ، حکومتي چارواکو د دوی شکايت له پامه وغورځولو او په زور يې خاموشه کړل. همدارنګه اسلام اباد د کلونو کلونو لپاره د عربو او منځنۍ اسيا د وسله والو شتون ردولو.
تر 2003 کال پورې وسله والو خپل ځانونه د جنوبي او شمالی وزيرستان په قبايلي سيمو کې ټينګ کړل او هڅه يې کوله چې يو سيمه ييز امارت جوړ کړي. زما مشر ورور فاروق وزېر يو سيمه ييز سياسي فعال ځوان مشر و. د يوې اوږدې مبارزې لومړنۍ قربانی شو، چې په دې ترڅ کې زرګونه نور پښتانه قومي مشران، فعالان، سياستوال او ديني عالمان هم ووژل شول. د دوی يوازينۍ جرم دا و، چې زمونږ په وطن کې د خطرناکو ترهګرو شتون تر پوښتنې لاندې راوستي و.
په 2005 کال کې زه په زندان کې وم، کله چې زما پلار، زما ورونه، تره زامن او يو تره مې په کمين کې ووژل شول. زه هلته وم، چې د انګرېزي استعمار د دورې يو ډير سخت قانون د سرحدی جرمونو مقررات (FCR) نافذ کړي و. چې له مخې ټوله قبيله يا سيمه د يوه فرد د فردي جرم له ملې سزا ورکول کيده يا په سيمه کې د کوم ادعا شوي جرم مسوولیت په غاړه درلود. ما هېڅ کله کوم جرم نه دی ترسره کړي او هېڅکله مې يوه عادلانه محکمه نه ده ليدلې او نه په کې جرم کې محکوم پيژندل شوي يم. بيا هم زه د خپلې کورنۍ د جنازو په مراسمو کې د ورتګ څخه منع کړل شوي يم. په راتلونکو نورو کلونو کې زمونږ د کورنۍ شپږ نور غړی ووژل شول. چارواکو هېڅکله د دې جرمونو پلټنه ونه کړه، دا خو لا پرېږده چې هېڅوک مسوول ونه ګڼل شول. که څه هم پاکستانی چارواکي د خپلو هيوادوالو ,, قربانيان,, د مجرمينو جرمونه روښانه کول خوشوي، خو هيڅا زمونږ سره خواخوږي او همدردي نه ده ښودلې.
زمونږ د کورنۍ د ټولو مخورو مشرانو تر وژل کيدو ورسته مونږ د اقتصادي تباهۍ سره هم مخ شولو. حکومت نشو کولې، چې اورپکې زمونږ د ګازو سټېشنونو له ويجاړيو څخه منع کړي. په وانه کې زمونږ د منو او شفتالو باغونه په زهرجنو کيمياوي مادو باندې وپاشل شول. زمونږ ټيوبونه، ويالې له خاورې ډکې کړل شوې، ترڅو مونږ مجبورل شو، چې تورو ځواکونو ته ورتسليم شو.
په 2016 کال زمونږ د وانه بازار ورسته له هغه ويجاړ کړل شو، کله چې يو پوځي افسر په بمی چاودنه کې ووژل شو. که څه هم ځايې چارواکو دا ومنله، چې دا يوه پېښه وه او زمونږ ګناه په کې هيڅ نه وه، خو بيا هم دوی د (FCR) قانون له مخې زمونږ معيشت بلکول له منځه يوړ. د ودانۍ له نړولو ورسته حکومتي چارواکو ځايې خلک په عمده توګه زمونږ د احمدزيو وزېرو قبيلې غړي، چې زمونږ لپاره د بسپنې راټولو هڅې کولې منع کړل شول. د احمدزي قبيلې ته وويل، چې دا به د نه منلو وړ يو مثال رامنځته کړي، ځکه چې حکومت نشی کولې هغه چا ته اجازه ورکړي، چې د هغو کسانو سره مرسته وکړي، کوم چې سزا ورته ميلو شوی ده. ما په دې کلونو کې په عدم تشدد خپل باور له لاسه ورنه کړ او سوله ييزه سياست ته ژمن پاتې شوم. له همدې امله ما په 2008 او 2013 کلونو کې پارلماني ټاکنو ته ځان ونه ماند کړ. زه په دادِ سره ويلې شم، چې ما د 2013 کال ټاکنې وګټلې، خو زما بريا د توپک په زور په ماتې بدله شوه. ورسته له هغې چې طالبانو زما ملاتړي او د کمپاين کارکونکي وويرول او شکنجې يې کړل، ما ټاکنې يوازې د 300 رائيو په توپيرسره وبايللې.
زه پوهيږم، چې زمونږ نيوکې د پې ټي ايم د کمپاين له پيل راهيسې په صراحت سره صريح او مستقيمې دي. مونږ نومونه اخلو او د هغو ځواکونو په نښه کولو صرفه هم نه کوو يا باج هم نه ورکوو، چې د ټولنې پاتې برخې، رسنۍ او سياستوال يې له نوم اخيستلو څخه ويره لري، انتقاد کول خو لا پرېږده. لکه څنګه چې زما کړاونه ښيي، مونږ پښتانه د دوزخ له عذاب څخه تېر شوي يو. يوازې دا په پام کې ونيسئ، چې په تيرو 15 کلونو کې په لسګونه زره ملکي وګړي د اورپکو په بريدنو او پوځي عملياتو کې وژلې شوي دي. لسګونه زره نور تری تم شوي دي او په ميليونونه وګړي د کلونو لپاره بېځايه شوی دي. د تاوتريخوالي د خپريدو په بهير کې په زرګونه ملکي وګړي ورک او تري تم شوي او په زرګونه کسان د قضايي عدالت پرته په صحرايي محکمو او په غير قانوني توګه له اعدامونو سره مخ شوی دي.
مونږ په ټول هيواد کې د ترهګرو په توګه د شکمنو کسانو په ليست کې اچول شويو. په امنيتي پوستو کې سپکاوي راته کيږي او زمونږ بېګناه ملکي وګړي د امنيتي پوستو او عملياتو په جريان کې له تاوتريخوالی سره مخ دي.
پښتانه د نړۍ تر ټولو لويې قبيلوي ټولنې په توګه د خپلې ميلمه پالنې، ژمنتيا او زړورتيا دود له مخې په نړۍ کې شهرت لري. خو بيا هم مونږ په غلطه توګه د ترهګرو د خواخوږ په توګه نومول شوی يو. سره له دې چې مونږ د دوی تر ټولو ډېر بد رقم قربانيان يو.
علی وزېر ويلې، د پښتون ژغورنې غورځنګ مې روح دی. له روح پرته انسان نه پاييږي، مونږ هېڅ دا خيال نه دی کړي، چې له دې غورځنګ پرته به ژوند وکړو. د ظالم او ظلم په ضد به د پې ټي ايم مذاحمتي مبارزه جاري وي. پې ټي ايم به تر هغې پورې چې لر او بر پښتانه د خپلو حقونو او ارام ژوند څښتنان شوي نه وي، خپلې مبارزې ته به دوام ورکوي.

پای

د ليکوال: آرشيف

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ